دوکتور محمد عثمان تره کی ۲۰۱۹/۰۳/۱۰

# د سولې د موافقه لیک نه وروسته
## د بهرنیو ځواکونو د لند مهال حضور حقوقي حالت

د وسله وال مقاومت او امریکائیانو تر منځ خبرې اترې تاکونکي پړاو ته رانږدې شوي ده. په اجنډا کې د بهرنیو قوتونو د وتلو موضوع د مذاکراتو محور جوړوي. پدې موضوع باندې چه د افغانستان نه د بهرنیو لشکرو وتل باید پلان شوي او تدریجي بڼه ولري، تول اړخونه اتفاق نظر لري. دلته د پام وړ پوښتنه دا ده چه د اوربند او متارکه په نافذیدو او د سولې په رامنځته کیدو ، د بهرنیو قواوو په شته والي سره سره اشغال دوام مومي یا پایته رسیږي ؟

پوښتني ته سیاست او حقوق هر یو ځانګړی ځواب لري :

- په سیاسي لحاظ هغه موافقه لیک چه د طالبانو او امریکائیانو تر منځ د بهرنیو ځواکونو د لند مهال حضور په اړه تنظیمیږي، بهرنیو قوتونو حضور ته سیاسي مشروعیت ور په برخه کوي.

طالبان چه د افغانستان د خاورې یوه برخه کنترولوي او د خپلواکي جګړې د یو اړخ په توګه پیژندل کیږي حق لري چه د سولې په مقصد د بهرنیو ځواکونو سره موافقه لیک لاسلیک کړي او د هغوي لند مهال حضور ته سیاسي مشروعیت وروبښي. خو موافقه لیک چه د یوه غیر حکومتي جوړښت (وسله وال مقاومت) او بهرني حکومت (امریکا) تر منځ رامنځته کیږي ، سیاسي مشروعیت لرلي شي نه حقوقي مشروعیت. سیاسي مشروعیت یوازې سولي پروسې ته د چټکتیا ورکولو په موخه کارول کیږي او د بهرنیو قوتونو لند مهال حضور محدودیتونه تاکي.

سیاسي مشروعیت هغه وخت عملي بڼه غوره کوي چه د طالبانو په وضعیت کې کیفي بدلون رامنځته شي : یعني طالبان د جګړې د یو اړخ په ځاي د راتلونکي حکومت د واکمن یا شریک په توګه مطرح شي. پدغه حالت کې د بهرنیو قواوو لند مهال حضور د نوي حکومت او بهرني اړخ تر منځ د یو تړون په چوکات کې تنظیمیږي. تړون د مخکني موافقه لیک ځاي نیسي. د اړخونو حقونه او مکلفیتونه په تفصیل څرګندوي. د بهرنیانو د نظامي هدې په بدل مناسب حق الاجاره تاکي. د بهرنیو قواوو کړه وړه د افغانستان د دولتي واکمني تر پوښښ لاندې راوړي.

اشغالګرو ځواکونو د افغانستان د ځمکې او هوا واکمني نوي حکومت ته سپاري او خپلې چارې د افغانستان د دولتي واکمني تر امر او نهي لاندې سر ته رسوي. بهرني اشغال پایته رسیږي.

سیاسي مشروعیت د حکومتونو تر منځ معامله ده چه په یوه زماني مقطع کې د جګړې د اړخونو تر منځ د قواوو اندول تمثیلوي. دا احتمال شته چه د قواوو د اندول په بدلون زور واک اړخ ترون او ورسره سیاسي مشروعیت تر سوال لاندې راوړي. دلته د ترون د تینګیدو او پیاوړتیأ په موخه د حقوقي مشروعیت اړتیا مطرح کیږي.

- حقوقي مشروعیت : سیاسي مشروعیت د جګړې نه سولې خواته د جګړې د اړخونو د موافقت زیږنده ده. په هغې کې ولس حاشیې ته لویږي. تلپاتې سوله او امن دا ایجابوي چه ولسي پرګنو پروسې ته راجلب شي. د بهرنیو نظامیانو د حضور موضوع چه ملي صبغه لري لویه جرګه یا تول پوښتنې ته حواله شي. یعنې حقوقي مشروعیت د سیاسي مشروعیت ځاي ونیسي. حقوقي مشروعیت، ترون ته بشپړه اجرائي ضمانت ورپه برخه کوي.

## نتیجه :

طالبان چه د افغانستان د خاورې یوه برخه تر خپلې ولکې لاندې لري حق لري جه د جګړې د یو اړخ په توګه د سولې په خاطر د بهرنیانو سره مذاکراتو ته کیني او موافقې ته ورسیږي. خو د تول ملت په استازیتوب بلې لورې ته ژمنه سپارلې نشي. د بهرنیانو لند مهال حضور کم او کیف او حد او حدود تاکل د ولس حق دي. په موضوع باندې، ولس د لویه جرګې یا تول پوښتنې له لارې پریکړه کوي. « پاي »

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با "کلیکی" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به "آرشیف" شان رهنمائی شوند.